مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

سید عبیدالله نادر ۲۰۲۰/۰۹/۱۱

# څو لنډې تعلیمی، تربیوی، اخلاقی او انتباهي کیسي

### د نزاکت پوهیدني یا نزاکت فهمی په هکله لنډه کیسه:

نظام الملک د سلجوقیانود دربار وزیر وو ، چې په پوهه او دانایی کې ډیر مشهور وو ،او دا تر ننه پوری د هغی د علم وفضل او معرفت انګازی تر مونږ پوری رسیدلي ، وایی چې د ده عادت داسي وو چې چا به د خوړو څخه که څه هم چې ډیره لږه اوکم به هم وو ورته راوړ نو نظام الملک به د ناستو کسانو سره وویشل ،یوه ورځ یو بزګر د ده حضور ته دری داني بادرنګه ،چې په پخوا به یی د نوی ګل او نیک فال په نامه لویانو ته وړل کیدل ، او دا یو دود وو او اوس هم په ځیني ځیو کي رواج لري ،نو نظام الملک هغه دری واړه په یواځې وخوړل .پرته له دې څخه چه یې د ناستو کسانو په مینځ کې یی وویشي ،یو کس چې د ده په مخ کې لږ ګستاخ غوندی وو ،تری نه یې وپوښتل چې د دې سبب څه وو ،چې دا نن یی د خپل عادت پر خلاف بادرنګ یواځی وخوړل او حاضرین یی محروم کړل ،نظام الملک ووییل :کله چې ما لمړی بادرنګ وخوړ،ډیر تریخ وو ،او همداسی دویم او دریم ورپسي ډیر ترخه ول ،ما د ځانه سره وویل : که دا دناستو کسانو په مینځ کې وویشم ،د دې د تریخوالي تحمل به هیڅوک و نه شي کولای ،او خامخا به شکایت وکړي ،او حیا د دې مانع وګرځیده ،ځکه هغه بزګر چې په یو امید راغلی وو او هغه به ډیر ناهیلي شي او د شرمساری احساس به وکړي.

*****

### کارغه او سپین ږیری:

سپین ږیری چې په ډیر متانت او درونډوالي په لاره کې روان وو نا ځاپه ودرید ، او مخامخ یې کټل لاروی چې یی تر شاه روان و، هغه هم ورته ودرید او تری یی و پوښتل با با څه ګوري څه دې ولیدل ،چې ناڅاپه ودریدی : سپین ږیري ځواب ورکړ .دا مخامخ کارغه ګوري چې د لار سر ډنډرکي کې اوبه څکي ما سوچ و کړ که مخامخ پری ورشم زما څخه به وډاره شي او وا به لو ځي ، نو ودریدم چې ښه اوبه و ښني او په آرامه بیا زه خپل تګ ته دوام ورکړم ،ما د ځانه سره وویل: سبحان الله انسانیت ته څومر لاري شته ،نو زه هم د هغي سپین ږیري په پیروي ودریدم تر څو هغه کارغه اوبه وڅښي ،او یو ډیر لوی درس می د نزاکت پوهیدنی او اخلاقو واخیست.

*****

### د افسوس عالم:

سپین ږیری بوډا چې ملا یی کږوپه وه ، او په رپانده لاسونو کي یي لکړه وه په لاس ،سر یی ښکته نیولی ،او دوه د لټون سترګي یی د ځمکي په لور ښخي کړي وي ، تا به وییل چې ګوندی څه لټوي ، او په ژور سوچ کښی وو ډوب ، یو ځوان هلک لاروی چې تر څنګه یې تیریده ، نو د ټوکي په انداز کې یي ورته وییل : با با په خاورو کې څه لټوی؟ با با په انتباهي انداز کې ورته وویل :د افسوس په یو عالم کې لټومه مي ، په خاورو کې ځواني.



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

*****

## دیو جانس کلبي او انځور گر (نقاش)

دیو جانس کلبي د یونان د مشهورو فلاسفه وو او حکیمانو نه دی ،چي د تاریخ په اوږدو کي ،د ده حکیمانه او فیلسوفانه خبرو ډیر د حکمت او معرفت خاوندان ،په حیرت کښي پریښي ، او ډیرو د ده د حکیمانه او پند و حکمت نه ډکو خبرو ښخه ټکان خوړلی او په خود راغلي ،نو وایی چي دیو جانس کلبي ته یو انځورگر ورغی او ورته یی وویل : چي ما انځورگري (نقاشي) پریښوده او اوس د طبابت د علم په حصول کي میشته یم ، دیو جانس کلبي چي حاضر جوابه ،نکته سنجه ، او حاضرالذهن انسان وو ،نو په خورا انتباهي انداز کي یي ورته وویل :چي انځور گری پریښودل او د طبابت علم اختیارول ،دا د عقل په زیات والي دلالت کوي ،ولی هغه خطا چي په تصویر یا انځور کي مینځ ته راځي د هر چا نظر او سترگي هغه خطا ویني ،لیکن هغه خطا چي په طب کي مینځ ته راځي یا واقع کیږي ، هغه خاورې پوښي !

*****

## گهرباره وینا:

یو بیگناه کس د یو حشمت او جلال خاوند پادشاه په وړاندی د یو کس په قتل مجرم و پیژندل شو ،پادشاه خپلو جلادانو ته حکم وکړ چي نور یي د کار ښخه پرده اوچته کړئ ، او به عام بازار کي یي په دار ځوړند کړئ ، بیگناه چي د دار او په اصطلاح د پړي خبره واوریده ، نو د ځان سره یي وویل : توکلت وعلی الله چي توکل دي وي په خدای ، کله چي جلادانو دی د دار په لور رهی کړ ،نو د ده په خوله کي لکه گل د نو بهار خندا غوړیدلی وه ،په لاره یي ډیر خندل او په ډیر خوشحالی سره د دار په لور رهي وو .ډیر خلک د ده حالت ته په حیرت کي پاتي شول او جلادان هم د ده دي بی تفاوتی او شهامت ته ، د مرگ په وړاندی هک حیران ول ،او په معنی نه پوهیدل ،یو تن د ملگرو ښخه چي ورسره نژدی روان وو ،او د زړه راز یي هم کله کله ورسره درلوده ، ورته یی وویل : په دي وخت کي ستا یار کومه دی ؟او هغه وفادار کومه دی؟ چي تا د دي حالت ښخه وژغوري ،د خلاصون لپاره درسره څه دی ؟ دار وگوره انجام وگوره ، دا دومره خندا دي په څه ده ؟ ده ورته وویل : ای له انجام ځیني غافله ، که راته څومره د بقا جامونه ، د فنا ساقي په لاس کي راکړي خو زما دا یو نفس او یو دَم د عمرباقي دی ،دا یو نفس غنیمت دی او په هیڅ قیمت بیرته نه راگرځي ،نو ډیر د حیف او افسوس ځای دی ،چي دا یو نفس او دا غنیمت دَم په غم او غصي سره تیر کړم . ښه به دا وي چي ، دا څو لنډي شیبی په خوشحالی سره تیرې کړم ،ځکه دا ساعت بیرته نه راگرځي ،دا ښي خبری چي په عالم د معنویاتو کي د انسان روح او روان تازه کوی ، او په تیارو او غافله زړونو رڼا اچوي ،ډیر خلک یي په حیرت کي پریښودل ،او د هوش خاوندانو ته یی ، د خودی ټکان وکړ ،دا گهر باره وینا د پادشاه غوږ ته ورسیده ،د پادشاه په شونډو کي د رحمت او بخشایش مسکا راغله ، او د بیگناه د دي پند آمیزه خبرو ښخه یي چي د دي بی گناه د ضمیر ښخه سر چینه اخیستة د ده په بی گناهی اعتراف وکړ .او هغه یی د نوازش او بخشایش سره وبخښه

د فارسی ادب د تعلیمی او انتباهی اشعارو ښخه په پشتو ادب کي ژباړه

*****

## زما د یوه ملگري خاطره یا یوه لنده د عبرت یوه کیسه:

د مسافرۍ شپې او ورځي به موپه یوه ،کور کي په مختلفواو بیلو بیلوملکونود خلکو سره تیرولي ،چي د کاره به راغلو سره به راغونډ شو ،او د خپل د ورځني د سترگو لید حال او تجربی به موسره شریکولی او خوند به مو تري اخیسته،ډیر ځله به د شپی سره کښیناستو او باتډاروته به مو سره کول ،زمونږ د باتډار د کیسو محتوا ټوله د دنیا په کارو بار په مادیاتو او د کارو بار د جوړولو ، او کله به مو توکي تکالي هم لرلی ، زمونږ یو ملگری چي ظاهرأ ډیر چپ او خاموشه وو ،په عین د حال کي خوش لباسه خوش صورته او یوه انسان هم وو ،او کله به یي داسي خبری کولي چي ډیر معنی داره به وي ،او د ده د ژور سوچ ښخه یي سر چینه اخیستة ، او کله به مونږ د ده په لوړو خبرو نه رسیدو یانی نه پوهیدو ، د ده عادت داسي وو چي ډیر ځله به تر نیمو شپو ،یو ساقی خانه کي چي زمونږ د کور تر ښنگه وو ،ناست وو او د څو جامونو د ښځلو سره به یي ، خپله د سوچ سلسله نوره هم پسي وزغلوله ،د ساقي خاني ساقي او ټولو د میکدي ملگرو سخته عقیده ورته پیدا کړي وه ، چي کله به دی نه وو ، د ساقي خاني د ملگرو له خوا به یي ډیري پښتني کیدی ،که څه هم ده هم کارو بار درلود،سوچ وزگار هم نه وو، زمونږ د ځینو ملگرو سره


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینگه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزي بني پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولئ

چې دا توان وو او د ده په ویناوو یی سر خلاصیده هغوی به وییل : چې ډیر پوه سړی دی ، خو ذاتي او طبیعي پوهه هم ورسره د مطالعي څخه زیاته ده ، یوه شپه زمونږ د یو ملګري چې هغه هم په اصطلاح نیمه فلسفی وو ،زړه یي ډیر د ده د نیمو شپو ناستی ته په میخانه کي تنګ شو ،چې یعنی دی ولي خوب ته نه راځي نو ورپسي ساقي خانی ته ورغی ،وي لیدل چې فلسفي ملګری یی ډوب په اندیښنو کې ناست دی ،ملګری می وایي : ما ترې و پوښتل : چې نیمه شپه ده ، راځه بیده شه خوب وکه ؟ ده راته وویل : چې خوب خو همغه یو خوب وي چې سړی ټول عمر خوب کوي ، یعني قبر ته ابدی خوب ته یي اشاره وه ، او زیاته یي کړه :چې بیا به د عدم د خوبونو څخه سټړي یو .خوب ته ډیر وخت لاشته ،خو د ځان د سموني او جوړوني د پاره ډیر لږ وخت مونږته راکړ شوی دی ،او د یو څو وزرونو خورولو مهلت راکړ شوی .او دي لنډ مهال کې باید د همت وزرونه وشوراوو .تر دي چې تیره شوه بیا به ځان ته هم ونه رسو، څه رسې و جهان ته ، او همداسي د حکمت او پند نه ډک یو څو ټکي یي نور هم وویل چی ماته یی سخت ټکان راکړ ،ځکه په ریښتیا هم که د غفلت له خوبه ځان وباسې، .او خودې خواته راځې ، نو په رښتیا چې هم باید بیداره اوسې ،زمونږ نه ډېر وختونه او فرصتونه په هوسایني او خوب کې تیر شوي ،که د معرفت سترګي خلاصوئ ،نو په رڼو سترګو ماحول ته نطر واچوئ ،یقین ولرئ چې عادی ستونزی خو به ژر تر ژره حل کړو ،بلکه په ډیرو نورو اسرارو او په پټو رازونو به هم خبر شو

## معنوي سکون:

مرید د ماحول له ناخوالو سترې ستومانه او ځوریدلی ،د دیو صفته انسانانو د ځور او جفا څخه چې د فرشتو په جامو کې یي هر راز ځور او جفا په دي ځوریدلي خلکو منلي ،او د دوی د نادانۍ او کم عقلی له آزاره د خپل معنوي سکون له پاره د خپل پیر مخي ته کښیناست ،پیر په خپل صاحبدلۍ پوهه او رسایي سره چې د صاحبدلانو خاصه ده ، د ده په تندي کې د زماني ناخوالي ولوستلي ،نو مرید نه یی حال وپښته ،مرید چې د دیو صفته انسانانو د ځور او جفا څخه یي د صبر پیمانه نوره ډکه شوي وه نو پیر ته یي د زړه حال بیانوو ،پیر په ژور دقت او سوچ کې د مرید احوال اوریده ،د ده د شرح حاله څخه شیبه په شیبه پیر د غمونو په سمندر کې لاهو کیده ،مرید د دیرو ترخو خاطراتو او ناخوالو د تکرار له وجهي یی ستونۍ ونیول شو یعني زړه غونۍ شو ،او په سخته ژړا یی پیل وکړ ،داسي یی وژړل ،چې د اوښکو باران یي ، په دواړو بارخوګانوجاري شو ،خو ناڅاپه په ژړا یي داسي زړه سپک شو چې تا به وویل : چې د عالم بارونه یی د اوږي څخه اوچت شوي ،د پیر زړه پرې سخت وردردیده او وي وییل : بس دی بس دی ته اوس په خپل ژړا هغه ځای ته رسیدلای یي چې ډیر د ریاضت خاوندان ،چې په شپو شپو عبادتونه کوي ،دا مقام نشي تر لاسه کولای ،ته همدي دردونو د معنی خواته راکاږلی یي .


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ